UNITED NATIONS
AFGHANISTAN

**PRESS STATEMENT**
8 March 2025

## د ښځو نړیوالې ورځې په مناسبت، ملګري ملتونه د افغان ښځو او نجونو لپاره د بېړنۍ پانګونې غوښتنه کوي – چې د افغانستان د راتلونکي لپاره خورا اړینه ده.

**کابل** - د ښځو نړیوالې ورځې په مناسبت، په افغانستان کې ملګري ملتونه یو ځل بیا له واکمنو چارواکو په کلکه غوښتنه کوي چې هغه بندیزونه لرې کړي کوم چې ښځې او نجونې د خپلو اساسي حقونو څخه محرومووي. ملګري ملتونه همدارنګه په غړو هېوادونو غږ کوي چې د افغان ښځو د غږونو پر پیاوړتیا، د دوی پر مقاومت، مشرتابه او راتلونکې کې پانګونه وکړي او یووالی په عمل بدل کړي.

د سږ کال موضوع، "حقونه، برابري او ځواکمنتیا - د ټولو ښځو او نجونو لپاره"، په افغانستان کې یوه مهمه یادونه ده، چیرې چې ښځې او نجونې له زده کړو، کار او عامه ژوند څخه  په سیستماټیک ډول ګوښه کیدو سره مخامخې دي. دا بندیزونه نه یوازې له بشري حقونو سرغړونه ده، بلکې د افغانستان د پرمختګ مخه هم نیسي، او د ملیونونو خلکو لپاره بېوزلي او انزوا زیاتوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې روزا اوتنبایوا وویل، "د دغو سرترو ننګونو سربیره، افغان میرمنې د خپلو ټولنو مشرۍ، جوړولو او ملاتړ ته دوام ورکوي. دوی د روغتیا او خوندیتوب په برخه کې خدمتونه وړاندې کوي، سوداګرۍ او مدني ټولنې اداره کوي، او په نه ستړې کیدونکې ډول د خپلو حقونو دفاع کوي. اړینه ده چې د شته او راتلونکو ننګونو د حل لپاره دوی ته مهم رول ورکړل شي. د زده کړې او کار د حقونو بیرته ترلاسه کول به د دوی ژوند، ټولنې او د افغانستان راتلونکې د ټولو لپاره ګټور کړي."

اوتنبایوا زیاتوي، "په افغانستان کې ملګري ملتونه د دغه هیواد ښځو او نجونو سره خپل بشپړ پیوستون ښکاره کوي او په تدریجي ډول د ټولنیز ژوند څخه د دوی د ګوښه کېدو غندنه کوي. موږ به د افغان ښځو او نجونو د مقاومت او مشرتابه په برخه کې د پانګونې لپاره په خپل ټول توان سره هر هغه څه ته دوام ورکړو، چې د یو سوکاله او ټول ګډونه افغانستان لپاره اړین دي."

افغان ښځو خپلې غوښتنې نړیوالې ټولنې ته په څرګنده توګه وړاندې کړې دي. په دې کې د دوی د حقونو او آزادیو د بېرته ترلاسه کولو څخه ملاتړ او په نړیواله اجنډا کې د دوی وضعیت شاملیدل دي؛ په هغه ځایونو کې د دوی استازیتوب څخه ډاډمنتیا ترلاسه کول چې د افغانستان د راتلونکې په اړه پکې پریکړې کیږي؛ د ژوند ژغورنې مرستو او خدمتونو لپاره د بودیجې برابرول؛ او په هغو پروګرامونو کې پانګونه چې د ښځو د مشرتابه او اقتصادي پیاوړتیا ملاتړ کوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو د دفتر استازې الیسون ډیویډیان وویل : "موږ د افغان ښځو او نجونو لپاره داسې راتلونکې نشو منلی چې موږ به یې د ښځو لپاره په بل هیڅ ځای کې ونه زغمو. له عامه ژوند څخه د دوی د ګوښه کولو پر وړاندې زموږ غبرګون په هر ځای کې د ښځو او نجونو سره زموږ د ژمنې ازموینه ده. موږ باید د افغان ښځو سره ودریږو ځکه چې زموږ ژوند دوی پورې تړوا لري."

ډیویډیان وویل، "ملګري ملتونه په افغانستان کې پاتې دي، خپل خدمات یې وړاندې کړي او دې کار ته به دوام ورکړي، او د خپلو شریکانو سره په ګډه به د ټولو افغانانو د حقونو د ساتنې لپاره کار کوي."

پای

***